مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۲/۰۸/۱۷

د افغانستان سیاسي - تأریخي ژرونال

څلورم ټوک، مزار شریف
او د افغانستان شمال - مرکزي برخې

یوسلو شپږ دیرشمه برخه

تصحیحات:
ډاکټر لودویک ډبلیو آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA
1979

دریم فصل
د امیر شیرعلیخان تر واګې لاندې افغان تورکستان

د فیض محـــــمد خان تر ولکې لاندې د لویدیځو ولایتونو تسلیمي. په افغانستان کې د چارو عمومي اړخونه ۱۸۶۶ – ۱۸۶۷
د بخارا هم مهاله حالت ۱۸۶۶ – ۱۸۶۷
د بدخشان د میر له پلوه د کندز تصرف
فیض محمد خان کندز بیرته نیسي او دا ځل بدخشان هم تر تصرف لاندې راولي
بدخشان د میر محمد شاه تر کنترول لاندې ۱۸۶۷
د فیض محمد خان او د محمد افضل خان مړیني
امیر شیرعلیخان د افغان تورکستان مسائـــل حل و فصل کوي: میمنه – اندخوی، سرپل او شبرغان، آقچه – بلخ او مزار شریف- تاشقرغان او ایبک- کندز- بدخشان
له کابل څخه د بدخشان د پخوانی میر لیدنه، ۱۸۶۷
د کندز میر اتالیق د شیرعلیخان څنګ خوشي کوي
په تورکستان کې د عبدالرحمن خان کمپاین ۱۸۶۸
د آقچې، شبرغان، سرپل او اندخوی ځپل
د میمنې پر ضد کمپاین
له هراته د کابل پر لور د شیرعلیخان بریالی او سوبمن پرمختګ، د تورکستان نا آرامه حالات
د کندز او بدخشان چارې
د پخواني امیر، محمد عظیم خان ماته او تیښته، د ۱۸۶۹ زکال د جنوري میاشت
افغان تورکستان د امیر شیرعلیخان تر واکمنی لاندې ۱۸۶۹
فیض محمد خان ته د لویدیځو ولایتونو سپارل.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کله چې فیض محمد خان په منصفانه ډول خپل بیعت له محمد افضل خان څخه نور شاته پریښود او افغان تورکستان ئې شیرعلیخان ته وساتهٔ نو خپل ځان ئې دومره پیاوړی احساس کړ چې د شبرغان د میر د تأدیب او تنبیه چاره ئې په لاس کې واخیستهٔ ځکه نوموړي له خپله ځانه د نارضایتی نښې څرګندې کړې وې. د آګست په میاشت کې د شبرغان، سرپل، اندخوی او میمنې میرانو فیض محمد خان ته د خپل بعیت سوګند وکړ او دهٔ ته له خپلو هدایاو او تحایفو سره منتظر پاتې سول. د میمنې میر ظاهراً د امیر شیرعلیخان په اجازې دا ګام اوچت کړی وو ځکه میر تل ځان د هرات نوکر او رعیت احساس کاوهٔ. د همدې کال په وروستیو کې فیض محمد خان د تورکستان ټول لوی مشران سره راټول کړل او په یوهٔ جومات کې چې د امیر شیرعلیخان د مسجد په نامهٔ یادیدهٔ په ګډه ئې له عام ولس سره د جمعې لمونځ اداء کړ.

۱۸۶۷ز کال: په افغانستان کې د چارو عام اړخونه: ۱۸۶۶ – ۱۸۶۷ز کال

مخکې له دې چې په افغان تورکستان کې د پیښو د پرمختګ د جزئیاتو په هکله په تفصیل خبرې وکړو، ښه به دا وي چې د افغانستان او بخارا د چارو عمومي اړخونو ته یو لنډه کتنه وکړو. محمد افضل خان د ۱۸۶۶ز کال تر پای پورې د کابل پر تخت ناست وو، نوموړی د همدې کال د مې په میاشت کې پر دغهٔ تخت باندې کیښنول سوی وو. خو نوی تر لاسه سوی سلطنت له شماله په افغان تورکستان کې د فیض محمد خان له پلوه تر ګواښ لاندې وو او په سویل کې په کندهار کې د شیر علیخان له پلوه تهدید کېدهٔ. په عین وخت کې محمد یعقوب خان د شیرعلیخان مشر او ژوندې زوی د هرات واګې بیا په لاس کې واخیستې. د ۱۸۶۷ز کال د جنوری په میاشت کې د دواړو سیالو ډلو په موقفونو کې بدلون راغی. په سویل کې شیر علیخان د محمد عظیم خان له لاسه ماتې وخوړله او مجبور سو چې کندهار وروسپاري او هرات ته په شا سي. خو په دې منځ کې په افغان تورکستان کې فیض محمدخان په میرانې سره د شیرعلیخان ملاتړ ته ودانګل؛ فیض محمد خان چې پخوا ئې محمد افضل خان ته بیعت کړی وو نهٔ سوای کولای چې بیرته خپل لومړي بیعت ته وګرځي ځکه په دې بریالی سوی وو چې د ۱۸۶۷ز کال د جنوری په میاشت کې د محمد عظیم خان زوی محمد سرور خان ته ټینګه ماته ورکړي.

د بخارا هم مهاله حالت ۱۸۶۶ – ۱۸۶۷

په عین وخت کې د بخار د امیر مظفرالدین مخه له سره تر پایه د روسانو تیریو نیوله او نهٔ ئې سوای کولای په خپل افغان ګاونډ سیمه کې په روانو شخړو کې برخه واخلي. په همداسې یوهٔ پړاو کې راپور ورکړل سو چې نوموړي د شپږو یا اتو میاشتو لپاره له روسانو سره اوربند کړی دی چې له مخې ئې روسانو چې د سمرقند په شاوخواو کې لښکر اچولی وو شاته تګ وکړ او (جیزخ ، خجند او اوره تپه[1]) ئې ونیوله. په همداسې یوې مقطع کې د بخارا د امیر یوهٔ وارهٔ خپل اکا ته له بیعت څخه لاس واخیست او شهر سبز ته لاړ او د شهر سبز خلکو دی د خپل حاکم په توګه ومانهٔ. له دې سره جوخت د ۱۸۶۷ز کال په پیل کې مظفرالدین خان په دې فکر کې سو چې شهر سبز بیا ونیسي؛ خو تهدیدات او خطرات ددهٔ په ګرد چاپیر کې دم پر دم ډیریدل ځکه ددهٔ په شاو خوا مشرانو کې د خپلو شخصي ګټو د ساتلو لپاره له روسانو سره ددوستی د ټینګولو هڅې کولې؛ او روسانو دومره تقویتي ځواکونه راوړي ول چې توقع کیدله د بخارا پر وړاندې تازه دښمني به په پسرلي کې له سره تر لاس لاندې ونیول سي.

د بدخشان میر کندز تصرفوي

دلته باید یاده کړو چې د ۱۸۶۵ز کال د جون په میاشت کې چې فتح محمد خان لا تر دې دمه د افغان تورکستان والي وو، د کندز حاکم میر اتالیق وفات کېږي او فتح محمد خان، ددهٔ زوی سلطان مراد ددهٔ پر ځای مقرریږي چې د پلار ځای ناستی سو. وروسته د همدغهٔ کال په لړ کې کله چې د تورکستان لښکر فتح خان او شیر علیخان ته شا کړه او له عبدالرحمن خان سره یو ځای سو او محمد افضل خان سره یو ځای سو، د کندز نوي ټاکل سوي مشر له لږ شمیر اصلاحاتو وروسته عبدالرحمن خان ته بیعت وکړ او په ځواب کې ورته خلعت ولیږل سو. پر هغهٔ مهال چې فیض محمد خان د تورکستان د والي په توګه د نهٔ مقرری له کبله له افضل خان څخه خوابدی او خپل بیعت ئې بیرته اخیستی او شیرعلیخان ته ئې بیعت وکړ، د کندز نوی حاکم په سربدالی او لالهاندې کې بند پاتې وو. هلته ها خوا د کندز په ختیځه کرښه کې میرزا جهاندار شاه د بدخشان مشر خپل بیعت محمد افضل خان ته اعلان کړ او خپله خور ئې محمد عظیم خان په واده ورکړه. ورپسې د بدخشان میرزا جهاندار شاه د محمد افضل خان په ګټه هڅه وکړه چې

[1] - Jizakh, Khojend, and Ura Tapa

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کندز ونیسي او وئـــي کولای سول چې د کندز او تالقان ښارونه ونیسي. په عین وخت کې سلطان مراد خپلې میرمنې او مالونه کولاب ته واستول.

فیض محـمد خان کندز احیا او بدخشان تصرفوي

کله چې فیض محـمد خان ته خبر راورسید چې د بدخشان میرزا جهاندارشاه کندز نیولی دی نو سمدلاسه ئـي کندز ته ځواکونه ولیږل. کله چې د فیض محـــمد خان او سلطان مراد له پلوه د کندز او بدخشـان پر ضـد پوځي تحرکات پیل سـول نو دا تفاهم ددوی تر منځ موجود وو چې که سلطان مراد بدخشـان ونیو نو دا سیمه به ددۀ د ژوند تر پایه ددۀ په متصرفاتو کې وي. په پای کې فیض محـمد خان شخصاً د کندز پر لور وخوځـېـد، میرزا جهاندار شاه ته ئـي ماته ورکړه او له بدخشانه ئـي دباندې وایست او دې ته ئـي اړ کړ چې چترال ته وتښتي.

بدخشان د میر محمـد شاه تر لاس لاندې ۱۸۶۷

په دې وخت کې فیض محـــمد خان د کندز سلطان مراد ته د بدخشان پر سر خپله ژمنه تر سره نـــۀ کړه. کیدای سي سلطان مراد د بدخشـان پر ضـد د کمپاین په ترڅ کې چنداني هڅه نـــۀ وي کړې؛ او یا هم کیدای سـي په خپله فیض محـــمد خان شیرعلیخان ته د خپلې وفاداری په هکله شکمن وو، ځکه په ورځنیو یادداشتونو کې په څرګنده او ځلونو ویل سوي چې میر سلطان مراد په محرم او پټه توګه د بدخشان د میر ملاتړ کړی دی. په هر حال فیض محمد خان دا غوره یا مصلحت وګڼله چې د بدخشان واګې میر محـــمد شاه او د متوفی میرزمان شاه د نورو خپلوانو په لاس کې په دې شـرط ورکړې چې د اړتیا پر مهال دې سـپور ځواک چمتو کاندي. د بدخشـان د نوي میر لومړنی اقدام دا وو چې باید کوښښ وکړي چې خپل سیال میرزا جهاندار شاه ځانته تسلیم کړي او په هر قیمت چې وي باید مخه ئـــي ونیول سي چې کابل ته ونـــۀ تښتي. له دې سره سم د بدخشان نوي میر د چترال میر ته لیک ولیکـۀ او په لیک کې ئـــي ورته یادونه وکړه چې تاســو خو له پخوا وختونو د بدخشـــان لپاره خراج ورکوونکي واســت نو غږ دربانديکوم چې میر جهاندار شاه ونیســه او ماته ئـــي بدخشان ته راولیږه او یا ئـــي هم کشمیر یا د برتانیې تر کنترول لاندې سیمو ته وشړه. د چترال میر ورته په ځواب کې ولیکل چې دی بدخشان ته د چترال د بعیت په هکله کوم بحث نـــۀ لري خو په ضمن کې نـــۀ سي کولای میرجهاندار شاه بدخشان ته واستوي ځکه دلته نوموړي کوم بد کار نـــۀ دی کړی چې د بدنامی په سزا ئـــي بیرته بدخشان ته درواستوم. خو دی به پخوانی میر په لنډ وخت کې بل ځای ته واستوي.

د فیض محـمد خان او محـمد افضل خانې مړینې

په همدې مهال شیرعلیخان له هراته راغی او له فیض محـــمد خان سره یو ځای سو. د جون په میاشت کې دوی په قرآن باندې له سوګند وروسته یوۀ ډیر پیاوړي تړون ته ننوتل؛ او د اګست په میاشت کې فیض محمد خان د تورکستان له نیمایي لښکر سره له تخته پل دباندې په مارش ووت او د لښکر بلې نیمایي برخې ته ئـــي وویل چې په دۀ پسې دې د شیرعلیخان تر مشرۍ لاندې راسي. د سپمتبر په ۱۳ نیټې عبدالرحمن خان په (کلا الله داد) کې له فیض محـــمد خان سره ونښت او عبدالرحمن خان بشپړه بریا تر لاسه کړه چې په لړ کې ئـــي فیض محـــمد خان ووژل سو. د اکتوبر په څلورمې نیټې عبدالرحمن خان کابل ته په بریا سره راستون سو، له راستنیدلو سره سم ئـــي ولیدل چې پلار ئـــي محـمد افضل خان په مرګوني ناروغۍ کې ډوب دی او نوموړی د همدې ناروغۍ له کبله درې ورځې وروسته مړ سو.

شیرعلیخان د افغان تورکستان مسائـل حل و فصلوي

د ۱۸۶۷ز کال په وروستیو کې شیرعلیخان د محـــمد عظیم خان پر ضد د نوې جګړې لپاره د تیارۍ په حال کې وو، محـمد عظیم خان د خپل مشر ورور محـمد افضل خان ځای په کابل کې د کابل د امیر په توګه نیولی وو. په عین حال کې راپور ورکړ سو چې شیرعلیخان د افغان تورکستان ولایات په لاندې ډول ویشلي دي:

میمنه -	د مینمې د مشر حسین خان تر مشرۍ لاندې پاتې کیږي
اندخوی -	د غضنفر تر مشرۍ لاندې
سرپل او شبرغان	د حکیم خان تر مشرۍ لاندې
آقچه-	د محـمد خان تر مشرۍ لاندې
بلخ او مزار شریف-	د رستم خان مزاری تر مشري لاندې
تاشقرغان او ایبک-	د خلم د پخواني میر د زامنو تر مشرۍ لاندې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له کابل څخه د بدخشان د پخواني میر لیدنه، ۱۸۶۷

د ۱۸۶۷ز کال وروستۍ میاشتې وې چې د بدخشان پخوانی میر جهاندار شان کابل کې راڅرګند سو او محـــمد افضل خان ورته په درنښت ښـۀ راغلاست وویل، تر دې دمه محـمد افضل خان لا ژوندی وو. محمد افضل خان د اکتوبر د میاشتې پر ۷ نیټې وفات سو او ددۀ کشر ورور محـمـد عظیم خان د خپل ورور محـمد افضل خان ځایناستی سو او د کابل پر تخت کښیناست. ورپسې ئـــې عبدالرحمن خان په تورکستان کې د شیرعلیخان پر ضد د لښکرې مارش لپاره تیاری نیوۀ. همدا ول چې جهاندار شاه هم له عبدالرحمن سره د تورکستان په مارش کې یو ځای سو، ددوی تر منځ دا تفاهم سوی وو چې د دې کمپاین په پای کې به ورته ددۀ د خپل ولایت، بدخشان، تصرف په لاس کې ورکړل سي.
سلطان مراد هم شیرعلیخان ته شا کوي او تښتي. د همدې کابل پای چې عبدالرحمن خان په تورکستان کې د پرمختګ په حال کې وو چې د کندز میر سلطان هم شیرعلیخان ته شا کړله او د عبدالرحمن خان مخې ته د ښـۀ راغلاست لپاره ورغی او په پای کې له خپلو ځواکونو سره یو ځای په ایبکو کې له عبدالرحمن خان سره یو ځای سو او له ځان سره ئـــې ۱۰۰۰ مونډه اوړه او وربشې، ۱۰۰۰ پسونه او ۷۰ آسونه هم راوړي ول. خو عبدالرحمن خان د سلطان مراد په سرتیرو باندې شکمن سو او سرتیري ئـــې رخصت کړل چې خپلو کورونو ته لاړ سي خو په خپله میر سلطان مراد ئـې د هغـۀ د پیروانو له یوې کوچنۍ ډلې سره له ځان سره وساتـۀ.

۱۸۶۸ز کال: په تورکستان کې د عبدالرحمن خان پوځي کمپاین، ۱۸۶۸

د ۱۸۶۹ز کال د جنورۍ په میاشت کې شیرعلیخان له تاشقرغان څخه د هرات په لور له شپږ زرو سرتیرو، لسو توپونو او د مهماتو له ستري زیرمې سره یو ځای چې په بلخ کې ئـــې راټول کړي ول وخوځـــېـد. میر حسین خان له شیرعلیخان سره د میمنې تر پای پورې ملتیا وکړه. په عین حال کې د لویدیځو ولایتونو وزبیکانو چې د شیرعلیخان ملاتړ ئـــې کاوۀ خپل ځواکونه په آقچې کې متمرکز کړل؛ او د آقچې پخوانی ناکرار میر ایشـان اورتک هم له بخارا څخه آقچې ته راغی. د شـیرعلیخان له لوري د عملیاتو پلان داســې وو چې د تورکســتان میران دې په کافي اندازې د عبدالرحمن خان پاملرنه پر آقچې متمرکزه کړي او په خپله شیرعلیخان به له هراته د کندهار پر لور پر مختګ وکړي او ورپسې به د کابل پر لور وخوځـــېـږي. د فبروري میاشت وه چې عبدالرحمن خان تخته پُل ته ورسید. عبدالرحمن خان پوه ســو چې د لویدیځو ولایتونو خلک ددۀ پر وړاندې مقاومت ته تیار دي؛ امیر عبدالرحمن خان د بخارا امیر ته لیک ولیږۀ او پوښتنه ئـې کړې وه چې آیا تاسو د لویدیځو ولایتونو مشران لمسولي چې مقاومت وکړي؟

د آقچې، شبرغان، سرپل او اندخوی ځپل

په همدې میاشت کې عبدالرحمن خان د آقچې په ګاونډ کې وزبیک ځواک درې وړې کړ، او ددوی دوه تنه مشران ئـې ژوندي ښـخ کړل چې په نورو ولایتونو کې وحشـت رامنځته کړي. ورپســې ئـــــې د آقچې کلا ونیوله او لس ورځې وروسته ئـــــې د شبرغان پر لور پرمختګ وکړ. خو د میمنې په استثناء نور ټول لویدیځ ولایتونه په دې وخت کې په کافي اندازې وارخطا سوي ول او د خپلې تسلیمۍ د وړاندیز په اړه ئـــې بیړه کوله. د شبر غان میر، حکیم خان د دوه زرو او پینځه ســوه روپیو په ارزښـت نذر ډالۍ کړ. ســرپل د خپلې تسـلیمۍ وړاندې کړ. اندخوی یوازې او متروک پاتې وو، د اندخوی مشر غضنفر خان میمنې ته وتښتـــــېـــد. له دې سره سم عبدالرحمن خان خپل افسران د آقچې، شبرغان، سرپل او اندخوی لپاره وټاکل او بیا ئـې د میمنې پر وړاندې مارش وکړ.

د میمنې پر ضد عملیات

په دغې زماني مقطع کې د میمنې د مشر میرحسین خان یو استازی په شبرغان کې عبدالرحمن ته منتظر پاتې سو او هڅه ئـــې وکړه چې د خپل ارباب لپاره پلمې وړاندې کړي. نوموړي استازي له ځان سره یو ټرون لیک راوړی وو، دا ټرون د میمنې مشر له متوفی امیر، محـــمد افضل خان سره کړی وو، په دې ټرون کې د میمنې مشر موافقه کړې وه چې هر کال به د (پینځو زرو سرو زرو «تیله[2]») خراج ورکوي. عبدالرحمن خان دا ټرون قبول نـــۀ کړ او ځکه ئـې رد کړ چې میر له شیرعلیخان سره د هرات پر لور مارش کې مرسته کړې وه. میر حسین خان د اوښانو او آسونو یوه ښکلې ډالۍ شبرغان ته ولیږله؛ او له دې چې عبدالرحمن ځان پیسو او د اړتیا وړ توکو ته سخته اړتیا درلودله اړ

[2] - gold tillahs

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سو چې شرایط ومني. ورپسې عبدالرحمن خان له میر ځخه د خپلو سرتیرو د یوۀ کال تنخواه وغوښتله. د میر استازي د (۳۰۰۰۰ سـرو زرو «تیله») د ورکولو وړاندیز وکړ خو عبدالرحمن خان د یولک طلاوو غوښـتنه وکړه او تهدید ئـــي وکړ چې دا اندازه برابري نـــۀ کړي نو خپل ټول ځواکونه به میمني ته ولیږدوي. ورپسې د میر مور په خپله عبدالرحمن خان ته په شبرغان کي منتظره سوه او له ځان سره ئـي پینځه ویشت زره د سرو زرو تیلي راوړي وې او هم ئـــي له ځان سره د کندز د مشهور جهان ګیري توپ په شان توپ راوړی وو. په یوۀ لنډ اوربند باندې توافق وسو خو نتیجـه ئـي نـۀ درلوده. په دې پسې عبدالرحمن خان د میمني پر ضد عملیات پیل کړل خو له مدافعي سره مخامخ سو. په عین حال کي د میمني ددفاع لپاره ۱۲۰۰۰ تنه ولاړ ول چې شپږ توپونه ئـــي هم درلودل، او له بل لوري د ۱۰۰۰۰ یا ۱۲۰۰۰ تنو په شـاو خواوو کي تورکمنان د میمني، سرخس، پنجده او بالامرغاب ته په دې لیواله ول چې د عبدالرحمن خان لښـکر لوټ او تالا کړي. په دغـــۀ وخت کي عبدالرحمن خان ته د بخارا یو پلاوی راورسـید او ورځخه ئـــي غوښتي ول چې د روسانو د یرغل پر ضد دې د بخارا د امیر ملاتړ وکړي. عبدالرحمن خان په ځواب کي ورته وویل چې د زړۀ له تله چمتو دی چې د بخارا مرستي ته ودانګي خو د میمني د میر د مقاومت له کبله دا کار ورته دا مهال ناشـونی دی. ورپسـې د بخارا پلاوی میمني ته لاړ چې میر تسلیمی ته اړ کړي خو په همدې وخت خبر ورسید چې د شیرعلیخان زوی کندهار نیولی دی. د کندهار سقوط شیرعلیخان او ډلې ته ئـــي تاندې هیلې وغوړولې خو په کابل کي ئـي محـمد عظیم خان او په تورکستان کي ئـي وراره ئـۀ لوی سرخوړی پیدا کړ. په دې وخت کي د میمني میر خپله د غړ بڼه بدله کړله، او له دې چې عبدالرحمن خان او لښکر ئـــي د خوراک او علوفه جاتو او مهماتو له کمښت سره مخامخ وو ډیر لیواله وو چې شرایط ومني. د اپریل په میاشت کي ول چې عبدالرحمن پر میمني باندې د وخت پانګه وکړه، ګرد چاپیره ئـــي مورچلونه جوړ کړل په همدې سیمي کي ئـــي نقب وهل پیل او ماینونه ئـــي ښخ کړل. خو میر د محاصـرې پر وړاندې سـخت مقاومت وکړ او محاصـرې تر یوې میاشـتي دوام وکړ. د مې د میاشـتي ۱۷ وه چې له دواړو لوریو د لنډ مهال لپاره ډزې وسـوې او په عین وخت کي ماینونه وچاودیدل او پر دې ځای باندې له درې لوریو بریدونه پیل سو. دغـــۀ برید تر ماښام پورې دوام وکړ خو په نهایت کي بیرته دفع سو. د میمني نارینه وو او ان ښځمنو د میمني د میر د سرتیرو مرستي ته رادانګلي ول او په محاصره کوونکو باندې ئـــي کاڼي او ډبرې وویشتلې او ډیر تاوانونه ئـي واړول. بل سبا سهار ئـي میر حسین خان د هماغـۀ ستر توپ او د ځلویښت زرو د سرو زرو د تیلو د ورکړې وړاندیز وکړ او دا شرایط د عبدالرحمن خان له پلوه ومنل سول.

له هراته تر کابله د شیرعلیخان بریمن او سوبمن پرمختګ.

کله چې عبدالرحمن خان د میمني د سرسخته او نافرمانه مشر په ځپلو بریالی سو، لومړی شبرغان او ورپسې تخت پل ته راغی. په همدې ډول شیرعلیخان د عبدالرحمن خان له شاتګ ځخه ګټه واخیستله، له هراته وخوځـېـد او له خپل سـوبمن زوی یعقوب خان سره کندهار ته نیږدې یو ځای سـو. په دوبي کي ول چې شیرعلیخان له کندهاره د کابل پر لور پرمختګ پیل کړ؛ او د سـپتمبر په یولسـمه نیټه وه چې شـیرعلیخان په بریا سـره کابل ته ننوت او یو ځل بیا د افغانستان تاج او تخت لاس ته ورغی.

د تورکستان ګډوډ حالات:

په دې وخت کي پخوانی امیر، محـمد عظیم خان، له کابله تورکستان ته وتښـتـېـد. په دې سیمه کي وزبیک وګړي بې حدۀ ډیر ناراضـــي ول. د شـیرعلیخان د زوی له پلوه د کندهار نیول کیدل، تخت پل ته د عبدالرحمن خان شـاتګ ټول ددې لامل سول چې د لویدیځو ولایتونو مشران بغاوت ته لاس واچوي او خپل بیعت له محـمد عظیم خانه بیرته واخلي او شیرعلیخان ته ئـي ورکړي؛ د اندخوی غضنفر خان، د شبرغان حکیم خان او د سرپل محمود خان ټولو په ګډه هغه افسران او مأمورین وشړل چې عبدالرحمن خان په دغو ځایونو کي مقرر کړي ول او ټولو خپل بیعت شیرعلیخان ته اعلان کړ. په عین وخت کي ایشان اورتک آقچه محاصره کړي وه. له بل لوري عبدالرحمن خان د کندز سلطان مراد خان په خپل لښـــکرکوټ کي زنداني کړ او کله چې نوموړي خپل یو شـــمیر خلک کندز ته ولیږل چې یو شـــمیر بارورونکي څاروي او نور د اړتیا وړ توکي برابر کړي دا لیږل سـوي کسـان په لاره کي د میان قطغن[3] له پلوه لوټ او تالا سول او له سیمي وشړل سول.

د کندز او بدخشان چارې

په همدې وخت کي د کندز او بدخشان پرګنو هم د لویدیځو ولایاتو پر پل ګام کښـېښود او له عبدالرحمن خان ځخه ئـي خپل بیعت بیرته واخیست. ورسره، عبدالرحمن خان خپل چمتووالی ونیوۀ چې په همدې لور وخوځـــېـــږي او ان تر

[3] - Mian Kataghan

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

غوري پوري پرمختګ وکړي؛ خو داسي ښکاري چي د بد مرغه خبر په اوريدلو سره دی ځای پر ځای دريدلی وي، دهٔ ته خبر راغی چي ددهٔ اکا، پخوانی امير له کابله تـښـتـېـدلی دی. په دي سره له سلطان مراد څخه په قرآن سوګند واخسيتل سو او خوشي سو او اجازه ورکړل سوه چي کندز ته ستون سي؛ له بل لوري عبدالرحمن خان له خپل لښکر څخه ميرجهاندار شاه ته ۵۰۰ يا ۶۰۰ سرتيري ورکړل او په دي سره مير جهاندار شاه وکولای سول خپل له لاسه تللی بدخشان د مير مضراب شاه له لاسونو خلاص او خپله اتوريته بيرته ترلاسه کړي.
متعاقباً کله چي د محـــمد عظيم خان او عبدالرحمن خان لښکر د کندز له چم ګاونډه ووت، سلطان مراد په خپل بيعت کي بيا شـکمن سـو او د اړتياوړ د توکو ليږد ئـــي بند کړ، او کله چي شـير عليخان خپل تخت بيرته ونيوهٔ د کندز او بدخشان ميرانو په خوښی سره شير عليخان ئـي د خپل نوي امير په توګه ومانـهٔ.

۱۸۶۹: د پخواني امير محـمد عظيم ماته او تيښته، ۱۸۶۹، جنوري

د ۱۸۶۹ز کال د اکتوبر د مياشتي شاوخواوي وي چي مـــحمـــد عظيم خان مزار شريف ته ورسيد او وړانديز ورته وسو چي همدلته پاتي سي او د تورکستان لښکر په خپلو ژمنيو مرکزونو تخته پل، تاشقرغان او ايبکو کي پاتي سو. خو ورپسي، عظيم خان له مزار شريف څخه ووت او لومړی تاشقرغان ته لاړ او له هغـــهٔ ځايه غوري ته لاړ، ځکه په غوري کي د کابل پر لور د پرمختګ لپاره تياری نيول کـېـدهٔ. ورپسي پـېـښي ئـــي د تأريخ عامي پيښي دي. د ۱۸۶۹ز کال د جنوري په مياشت کي د امير شير عليخان ځواکونو د تورکستان لښکر ته سخته ماته وکړه او وارهٔ ئـي عبدالرحمن خان په پای کي وکولای سول چي د فارس خاوري ته وتښتي.

افغان تورکستان د امير شير عليخان د حکومت تر اداري لاندي ۱۸۶۹ز.

د افغان تورکستان د تأريخ پای کولای سو په څو ټکيو کي رالنډ کړو.
محـــمد علم خان چي د امير شير عليخان له پلوه د باميانو د والي په توګه ټاکل سوی وو راپور ورکړ چي ټول افغان تورکستان له امير سره يو ځای سوی دی او په همدي مناسبت د ۲۱توپونو ډزي د شاهي سلام په توګه د تخته پل پر لور وويشتل سوي. دا مهال نو محـمد عظيم خان او عبدالرحمن خان په مشهد کي دي. په پای کي محمد علم خان خپل ډاډمن راپور وړاندي کړ چي نوموړي ته د تورکســتان او بدخشـــان له ميرانو څخه تحايف او هدايا رســيدلي دي او تورکستان آرامه دی.

د ۱۸۶۹ز کال د آګست په مياشت کي امير شير عليخان کندز سلطان مراد خان ته وروسپارهٔ، قطغن ئـي وزبيک مشر ته ورکړ او امر ئـــي وکړ چي جهاندار شاه دي له بدخشانه وشړي. دا امر په ځای سو؛ بدخشان له مقاومت پرته تسليم سو او له همدغـــهٔ وخت راوروسته بدخشان د کابل يو ولايت سو. ورپسي امير شير عليخان، محـــمد علم خان د نوي جوړ سوي او تثبيت سوي ولايت د والي په توګه وټاکه، خو له هماغه پيله ددي ولايت رسمي اداره د خلکو او د لښکر په منځ کي د ستري نارضايـــتی سرچينه وه، او همدا لامل وو چي په ۱۸۷۰ز کال کي په لښکر کي عام بغاوت پيل سو. د جنرال داؤود شاه او د والي ترمنځ شخړه ددي لامل سوه چي دواړه پلازميني ته راوبلل سي او ورڅخه وغوښتل سول چي د خپلو کارونو ګزارش دي ورکړي. محـــمد علم خان ته امير برائـــت ورکړ او په دي شرط ورته اجازه ورکړل سوه چي بيرته دي خپل مقام ته ستون سي چي د امير شير عليخان زوی ابراهيم خان دي ورسره د ملګري په توګه مل وي. دا دوه سَری قانون ناکام ثابت سـو؛ د داړو ملګرو تر منځ شـخړي راپورته سـوي او ابراهيم خان بيرته کابل ته وغوښتل سو او ټول حکومت محـــمد علم خان ته وسپارل سو. د محـــمد علم خان ظالمانه او ناوړه چلند ددي لامل سو چي په تورکستان کي په ځانګړي توګه د وردکي افسرانو او د لښکر د سرتيرو په منځ کي عامه نارضايتي راوپاروي او له بلي خوا بيلابيلو ميرانو د علم خان د نارواوو او ظلمونو په هکله بي ګټي شـــکايتونه وکړل. د ميمني مير چي د امير شـير عليخان يو ډيرګټور ملاتړی وو په پای کي په ۱۸۷۵ کي د والي د ظلم پر وړاندي بغاوت وکړ او خپل استقلال ئـي اعلان کړ، خو محـمد علم خان د نافرمانو خاناتو پر ضد مارش وکړ او تصرف ئـي کړل.

محـمد علم خان په ۱۸۷۶ز کال کي مړ سو او شاغاسي شيردل خان ئـي پر ځای کښـېـناست، نوموړی په قوم بارکزی وو او دی هم د ۱۸۷۸ز کال د جولای په مياشـت کي مړ سـو او ددهٔ ځايناسـتی ددهٔ زوی خوشـدل خان سـو. د امير شير عليخان له مرګ وروسته خوشدل خان راوبلل سو او پر ځای ئـــي جنرال غلام حيدر خان وردک مقرر سو. غلام حيدرخان د ۱۸۷۹ز کال د نوامبر په مياشت کي والي او سپه سالار وو، دی لا په خپل مقام وو چي محـمد سرور خان (د امير محـــمد اعظم خان زوی) تورکستان ته د تورکستان د بيلابيلو مشرانو په نامـــهٔ او هم د لښکر د افسرانو له يوهٔ پيام سره راغی او هغوی ته ئـــي د نوي امير له حضور څخه خبر ورکړ، دا مير بل څوک نـهٔ وو، دا امير عبدالرحمن

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

خان وو. خو غلام حیدر خان دا پلاوی اندخوی ته نیږدې وواژۀ او ورسر سم په ټول لښکر کې بلوا راوپاربـــدله او غلام حیدر خان وردک بخارا ته وتښـتـېـد، هلته په بخارا کې ورته د بخارا د امیر له پلوه پناه او امن ورکړ سو، باور دا دی چې نوموړی لا تر اوسه (۱۸۹۴ز) پورې هماغلته بخارا کې اوسیږي. د ۱۸۷۹ز کال د دسمبر په میاشت کې عبدالرحمن خان د محـــــمد عظیم خان د زوی، سـردار اسـحق خان او ۸۰ تنو پیروانو په ملتیا ولایت ته ننوت او پر ولایت ژر مسلطه کیدلو ورته ثابته کړه چې خلکو او لښکر ځومره له پخوانیو حاکمانو څخه کرکه درلودله.
د افغان تورکستان یوازینۍ برخه چې له تسلیمۍ څخه شاته پاتې وو او یا ئـــــې ناغیږي کوله میمنه وه او میمنه ان د ۱۸۸۴ز کال په لومړیو کې تسلیم سوه. سردار اسحق خان د عبدالرحمن خان په بریالتوب کې بنسټیزه ونډه درلوده، او عبدالرحمن خان هم په بدل کې اسحق خان د مزار شریف والي وټاکـــۀ؛ اسحق خان په مزار کې وتوانید چې پیسې راټولې کړي، دغو پیسو ته د پوځي علمیاتو لپاره د ډیرې بیړې اړتیا وه. کله چې عبدالرحمن خان کابل ته لاړ سردار اسحق خان د ټول تورکستان د والي په توګه پاتې سو. داسې ښکاري چې سردار اسحق خان په اداره کې د وړتیا خاوند وو او خلک ورڅخه راضي ول او په ځانګړې توګه په لښکر باندې ګران وو. نوموړي یو استثنایي نیمه مستقل موقف درلود، په حقیقت کې دۀ ته د تورکستان ولایت د ژوند تر پایه د تحفې په توګه ورکړ سوی وو. نوموړي د ټولو مالیاتو، ځواکونو، د ژوند او د مرګ ټول اختیارات په لاس کې درلودل هغه دومره ځواکمن وو چې بل هیڅ والي ددۀ په شان ځواکمن نـــۀ وو. خو په عین حال کې نوموړی د سیمې په کوچنیو مسایلو کې د اقدام کولو جسارت نـــۀ درلود او مجبوره وو چې د کابل اوامرو ته منتظر پاتې سـي. دۀ دا امتیاز درلود چې د خپل مرستیال والي وټاکي، لوړپوړي پوځي افسـران منتصـب او کابل ته د راټولې سـوې مالیې هیڅ برخه ورنـــــۀ کړي دا ټول ددې لامل سـول چې ددۀ استقلالیت کې د پام وړ لږ والی رامنځته سي. میمنه، ایبک او بدخشان له افغان تورکستان څخه جلا (اداري واحدونه – ژ) سـول او امیر امر وکړ چې ټول مالیات او عواید دې – له احتکار او فساد پرته – په تولنیزو مقاصـدو مصـرف سي. ددې کار د بشپړ تعمیل لپاره امیر د مالیاتو په ادارو کې ناظر افسران مقرر کړل او امر ئـــــې وکړ چې حسابات دې په منظم ډول کابل ته د پلټنې او تفتیش لپاره ولیږل سي.

د ۱۸۸۸ز کال د آګست په میاشت کې اسحق خان بغاوت وکړ او ځان ئـــــې امیر اعلان کړ. امیر عبدالرحمن خان په دې وروستیو کې نوموړی کابل ته احضار کړی وو؛ خو دۀ کابل ته تګ څخه انکار وکړ او ورپسې ئـــــې بغاوت پیل کړ. نوموړي د څو کالو لپاره خپل موقف ساتلی وو خو تل او په پرله پسې ډول چې امیر به ورته کابل ته بلنه ورکړه دۀ به غاړه غړونه وکړه؛ خو اوس موضـوع د کړکیچ تر حده لوړه سـوه او د کابل واکمن ته د پالیالۍ یا وفادارۍ ټول ظواهر ئـې لیرې وغورځول. د میمنې سرتیرو له اسحق خان سره یو ځای کیدل رد کړل او د هرات له والي څخه ئـې مرسته وغوښتله او دوی لومړی جنرال غربت خان زنداني کړ او بیا ئـې اعدام کړ، جنرال غربت خان، سردار اسحق خان دوی ته ورلیږلی وو. د سپتمبر په میاشت کې بلوا په بشپړ ډول وځپل سوه او د امیر سرتیرو په کهمرد او بلچراغ کې بریا تر لاســه کړه او ورپســې په غزنیګک کې ســخته جګړه ونښـتله او په لاندې ډول د تاج او تخت د مدعي په بشپړې ماتې واوښـتله: د سـپتمبر په ۲۳ نیټې کله چې د جنرال غلام حیدر خان اورکزي ځواکونه او د سـردار عبدالله خان ځواکونه په ایبکو کې سـره یوځای سـول اسـحق خان په بیړې تاشقرغان ته په شـا سـو او ویل سـوي چې ډیرې آسونه او سرتیرې ئـې په دښته کې د اوبو او خوراک توکو د نستوالي له کبله مړۀ سول. ددې ترڅنګ ددۀ لوی ملاتړي د قطغن میر، سلطان مراد هم نور د اسحق خان ملاتړ ته شا کړه او ورڅخه لاړ او هڅه ئـــــې وکړه چې د اکسوس له لارې وتښـتي. د امیر ګډ ځواکونه په دې ډول جوړ سـوي ول: د پلي ځواک ۱۳ کنډکه، د سپارۀ ځواک ۴ کنډکه له یو شمیر ملیشو یا قومي ځواکونو سره، او ۲۶ توپونه. دا ځواک ټول د ایبکو پر لور وخوځید او د سپتمبر په ۲۵ او او بیا په ۲۷ نیټې په غزنیګک کې د اسحق خان تر شـخصـي مشـري لاندې په باغي لښـکر ورواوښـتل. ویل سـوي چې د اسحق خان لښـکر د پلي ځواک له ۹ کنډکونو، د سپارۀ ځواک له څلورو کنډکونو او د غوایانو او آسـونو په مرسـته د کش کیدونکې توپچي ځواک له یوې بطریې څخه جوړ وو. دواړو خواوو پرمختګ وکړ او له یوې ســـختې جګړې وروسته د امیر د سرتیرو یوه برخه چې بولنه ئـــې د سردار عبدالله خان په لاس کې وه بشپړه ماته وخوړله. په همدې شـیبې کې چې د اسـحق خان ځواکونه د عبدالله خان د ماتې خوړلې لښـکر د کڅوړو او ابزار په لوټولو بوخت ول د غلام حیدر خان تر مشرۍ لاندې ځواکونو چې د مخالف لوري ځواکونو ته ئـې ماتې ورکړې وه د عبدالله خان مرستې ته راودانګل او په بشـپړې بریایې پر دښـمن برید وکړ. اسـحق خان او ددۀ د ګډوډ ځواک پاتې شـونو تیښـته وکړه، د اسـحق خان د ځواکونو ۱۶۰۰ تنه مړۀ او ټپیان د جګړې په ډګر کې پاتې سـول. د امیر د خوا تلفات د اټکل له مخې له ۵۰۰ سرتیرو ډیر نـــۀ ول. په راتلونکې ورځ ئـــې د امیر ځواکونه پرته له دې چې پر وړاندې ئـــې مقاومت وسي، تاسقرغان ته ننوتل. اسحق خان هم په همدې ورځ د مزار شریف له ښاره دباندې یو چیرې ورسید. ددۀ کورنۍ درې ورځې مخکې خمیاب ته تللې وه او په ۲۹ نیټې ســردار په خپله له اکســوس څخه پورې غاړه واوښــت او د بخار د

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سلطان د واکمنۍ په یوۀ ګوټ کې ئـــې ځانته یو پناه ځای پیدا کړ. د اکتوبر د میاشتې په دریمې نیټې د اسحق د لښکر پاتې برخه په مزار شریف کې تسلیم سوه.
امیر د اکتوبر په میاشت کې له کابله د افغان تورکستان پر لور وخوځـېـد. امیر په دسمبر کې ول چې مزار شریف ته ورسید او د ۱۸۹۰ز کال د جون تر میاشتې پورې د مزار شریف په ګاونډ سیمه کې پاتې سو. د همدې مودې په اوږدو کې امیر خپله پاملرنه د شمالي سرحد د دفاع لپاره وقف کړه او پریکړه ئـــې وکړه چې په دهدادي کې د پوځ د اوسیدلو لپاره یو استحکامي ځای جوړ کړي او په شادیانو کې د زیرمه کولو لپاره ستر زیرمتونونه جوړ کړي. په ۱۸۹۱زکال کې راپور ورکړل سو چې په شادیانو کې د زیرمتونونو چارې بشپړې سوې.

په اداري واحدونو کې د بدلون په هکله چې امیر رامنځته کړل کولای سو میمنه یاده کړو چې میمنه ئـــې د هرات له اداري واحد څخه بیرته د تورکســتان اداري واحد ته بیا راولیږدوله. محاســبات وایي چې په تورکســتان کې د امیر د اقامت په لړ کې ۵۴۰۰ تنه زندانیان کابل ته، ۱۲۰۰ تنه کندهار ته او ۵۰۰ تنه هرات ته ولیږدول ســـول. له دې بلوا وروسته د افغان تورکستان ولایت تر یوې مودې پورې په آرامۍ او امن کې پاتې سو خو د ۱۸۹۲ ز کال په پیل کې راپور وکړل سو چې د میمنې استوګنو خلکو له یوې مخې له امیر سره بد عهدۍ ته ملا تړلې ده. د جولای په میاشت کې د ولې / والي زوی ته له یو شمیر ځواکونو سره مل امر وسو چې له هغو ځواکونو سره یو ځای سي چې په هزاره جاتو کې ئـــې عملیات کول. کله چې قومي مالیات وضـع سـول له دې لړ ځنډ وروسته بلوا وپاریدله، نوموړی بیرته راتاو سو او په میمنې کې ئـــې د امیر پر ځواکونو یرغل وروړ. خو وروسته دا ښورښ ډیر ژر غلی سو او بلواګر (وزبیکان) وروسته له دې چې په قیصار کې درې وړې سول په غټ شمیر کې د روس خاورې ته واوښتل. - (جې. بي. سي.) [دا باید آی. بي. سي. وي – ژ]

له دې نیټې وروسته بیا په تورکستان کې کومه مهمه پیښه نـــۀ ده رامنځته سوې. سردار غلام حیدر جان د اوسني امیر ورور چې ټول ژوند ئـــې په دې ولایت کې تیر کړی دی محض اسماً والي دی خو حقیقي اداره په قوم توخي د سردار عبدالله جان په لاس کې ده. (اي. بي. سي. ، ۱۹۰۷)

نور بیا

د افغانستان سیاسي تأریخي ژورنال یا ګزیتر

یادونه: قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک او دریم ټوک ټولي برخي لوستی شی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ